# د ملنګ جان شاعري

اکتوبر ۱۹۹٤

پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ

په ننګرهار کې به داسې کسان کم وي چې همدا اوس ملنګ جان ونه پيژني . ممکن ټولو ته به معلومه نه وي چې د ده اصلي نوم محمد امين و. د بېسودو د چميار په کلي کې پيدا شوی ، په هلک توب کې يتيم شوی و. د ځوانۍ عمر يې په خوارۍ کې تېر کړی او تر هغه وخته چې په کابل کې د سردار محمد داود خان په سپارښتنه له يوه ښوونکي نه يې ابتدايي ليک او لوست زده کړل ، بېسواد و. دی هغه وخت له خپلې کورنۍ ، کلي ، سيمې او قام نه د باندې وپېژندل شو چې د ملنګ جان په نامه يې په شاعرۍ شروع وکړه ، او ننګرهاريو د هغه اشعار د سندرغاړو ، په تېره د هغه له شاګردانو ، طلا محمد ، اول مير ، ايوب ، فقير محمداد او نورو څخه په ډېرو ، حجرو ، ودونو او د خوښيو په نورو مجلسونو کې واورېدل . ملنګ جان نور نو چميارې او بېسودوال نه ، بلکې ننګرهاری ، افغانستانی او پښتونستانی شو. خو دی تر ټولو زيات پښتون و ، نه يواځې په دې چې په نامه لکه ډېر نور چې دي ، بلکې په پښتو او پښتونواله .
په دغو حکمونو باندې له دوو لارو څخه پوهېدل ممکن دي:

## د ملنګ جان عمر او د هغه اشعار

څنګه چې ملنګ جان اوه دېرش ( ۳۷ ) کاله د مخه په کال ۱۹۵۷/ ۱۳۳٤ کې د (( لته بند )) په غاښ کې د سروبس د چپه کېدو په پيښه کې په پخه ځوانۍ کې تلف شو ، د ده همعصران تر اوسه هم ډېر ژوندي دي او په هغو کې به ، په تېره د ده په کلي کې به داسې کسان ډېروي چې د ده په باب معلومات ولري . ښايي يو څوک له هغو څخه د ده سوانح وپلټي او ټوله او تدوين يې کړي . زه دلته د هغه په باب يواځې څېل انتباهات وړاندې کوم.

ما ملنګ جان له نږدې نه نه پيژانده . د هغه په وخت کې مې بېسود هم نه وو ليدلی . خو د ده اشعار مې په کابل کې د پښتونستان له پروګرام نه او په خپله سيمه ، لغمان ، کې د سندرغاړو له خولو اورېدلي وو. ملنګ جان په لغمانيو باندې په خپلو ترانو او سندرو سره دومره موثر شوی و چې بل ولسي شاعر تر هغې اندازې نه و موثر شوی . لغمان په خپله هم ډېر شاعران او سندرغاړي لرلي دي . استاد عبدالحنان پاخه زنځيربند شعرونه ويلي دي . بېسواد مامورا هم شهرونه ويل او هم يې له سندرغاړو سره په داسې حال کې چې دواړه غوړونه به يې په لاسو نيولي وو ، خپلې غزلې اورولې . په سندرغاړو کې ګله کی او ځوی يې نوم ايستلی و. خو هغومره چې ملنګ جان په خپلو سندرو سره لغمانيان مسحور کړي و ، بل هيڅ چا نه و مسحور کړي . دا ځکه چې لغمانيان د سندرو ويلو او د هغو د اورېدلو ډېر شوقيان دي . په لغمان کې د وطن د ډېرو نورو سيمو په شان دا يو دود دی چې واده واله په ودونو کې سندرغاړي ، چې خلک يې شاعران بولي ، راغواړي . سندرغاړي د واده په شپه او ورځ د کلي په کوم عام مېدان کې سندرې وايي . ښځې هم ، د ناوې په شمول ، په داسې حال کې چې خانونه يې په ټکريو کې له سره تر پايه پېچلي وي ، مېدان ته ورخرمه بامو باندې د زانو په شان قطار کښيني او ساز او سندرې اوري . سندرغاړي ، په داسې حال کې چې په سل ګونو انسانان ترينه چاپېر وي ، ځانونه د مسابقې په حال کې ويني . د خپل فن ، نامه او زوق په خاطر سندرو ته کش ورکوي او هغه په داسې جوش او خروش سره وايي چې سېلانيان زياتره مجذوب کړي . دوی په سندرو کې تاريخي قصې ، مذهبي روايتونه او اجتماعي ، عشقي او جنګي احساسات د محلي شاعرانو په اشعارو کې چې ډول ډول فورمونه لري په زړه راښکونکو آوازونو کې وړاندې کوي . په دې ډول دوی او په اصل کې محلي شاعران د ولسي خلکو د ذهن ، فکر او شخصيت په رغولو کې اثر لري . د سندرو انعکاسات شاعران نور هم شعر ويلو ته هڅوي او په دې ډول د دوی او د ولس تر منځ عضوي او نه شليدونکی پيوند پيدا شي . لغمانيانو باندې ځکه ګران شو چې هغه په اول سر کې د لغمان سندرغاړي مجذوب کړل او ورستيو د هغه سندرې د لغمانيانو زړونو ته ورسولې.

خو د ملنګ جان د پيژندنې اصلي منبع د ده اشعار دي . لکه چې د مخه ووېل شول دی زيات عمر بېسواد و او د ژوندانه په وروستيو کالونو کې په ليک او لوست دومره بلد شو چې خپل اشعار يې لوستلی او ليکلی شول . نو د ده جهان ليد ، نه کتابي و او نه يې اشعار د شکل له مخې په دقيقو شعري اصولو بنا وو . بلکې هغه د شکل او محتوا له مخې محلي او ولسي وو . پاخه هم نه و ، خو روان او طبيعي و ، که څه هم عشقي اشعار يې تر نورو نه پاخه او له خيال نه ډک و، لکه دا لاندې څو بيته:

ته د ناز په خوب ويده وې ما ژړل
ته بې غمه اسوده وې ما ژړل
ستا د مخ او د سپوږمۍ مقابله وه
ته په مخ ترې ازموده وې ما ژړل
ما درخواست د يوې خولې درځنې وکړ
راته ښکارې ازرده وې ما ژړل
وچ بالښت زما په اوښکو باندې لوند شو
ته په ناز کې پرورده وې ما ژړل
دا زما ملنګ جان برخه کړېدل دي
ته له نازه پرخنده وې ما ژړل

خو د ملنگ جان د اشعارو غټه برخه هغه موضوع ګاڼي تشکیلوي چې په ولسي خلکو کې ولې لري . ملنګ جان دغه موضوعات هضم او خپل کړل . بیا یې له خپل احساس او درک سره یو ځای د ولس په ژبه خارجي شکل ورته ورکړ ، او ولس ته یې وړاندې کړل . په دې حساب ځنګه چې دغه موضوعات په اصل کې له ولس نه ولاړ شوي وو ، په ولس ښه ولګېدل او ولس هم د هغو او هم د خپل شاعر قدر وکړ . پنځمه لسیزه چې په افغانستان کې د آزادۍ او د دموکراسۍ په وړمې پیل شوې او په اوږدو کې یې د پښتونستان موضوع توده وه ملنګ جان یې وهڅوه چې په خلکو کې د جاري او ژوندیو موضوعاتو یعنې د ننګ ، غیرت ، پیغور ، آزادۍ ، توري ، پښتو ، پښتونوالی ، نیکونو ، وطن ، پښتونخوا، او پښتونستان چغې په خپلو سندرو کې د سهار بلبلې په شان پورته کړي . دغه چغې ، په تېره د پښتونستان چغه ، ملنګ جان په خپلو ترانو او د ننګرهار سندرغاړو په خپلو آوازونو سره تودې وساتلې . د پښتونستان په هلکه د ملنګ جان چغې د رسمي تبلیغاتو تر چغو نه زیاتې تودې او اغېزمنې دي . ننګرهاریان البته د پښتونستان د موضوع په ولسي کولو او د هغه په باب د ولس په خوځولو کې تر هغه ځایه چې ماته څرګنده ده ، د ملنګ جان برخه تر هر بل ننګرهاري نه غټه ده . دی وایي:

سر ورکول په وطن کار د پښتنو دی
پښتونستان د پښتنو دی
په هغه ملک په هغه خاوره چې پښتون اوسیږي
د هغه نوم پښتونستان دی دا نوم نه بدلیږي
نور پښتانه د بل د توري لاندې نه اوسیږي
د ننګ خنجر ایښی د هر ځوان په اوږو دی
پښتونستان د پښتنو دی
هر څه نه تېر دی خو وطن نه تېرېدلی نه شي
خپله پښتونواله پښتو ژبه پرېښودلی نه شي
د خپل راتلونکي نسل ژوند خرابولی نه شي
د ملنګ جان دا اعتبار په شازلمو دی
پښتونستان د پښتنو دی
ملنګ جان د وطن په ژبه داسې وایي:
دا خاوره مې چې ګورئ درست هډوکي د نیکو مې دي
قبضه د نورو خلکو په ما باندې ناروا ده
خوشحال او احمد شاه او د شېرشاه او میرویس ګوریم
نارې مې په غوږ واورئ زه وطن د ستاسو مور یم

ملنګ جان انتقادي اشعار هم ویلي دي . دغسې اشعار یې ممکن ټول خپاره شوي نه وي ، ځکه چې د وخت د پښتو ټولنې آمر چې د ملنګ جان کلیات د هغه په امر چاپ شول وایي چې د ملنګ جان په اشعارو کې ( لږ ډېر کمی زیاتی .... وشو ) زیاتی خو به پکې نه وي شوی ، خو کمی به پکې شوی وي . په هر حال ، ملنګ جان په دغه باب وایي:

نفسونه شول غالب ــ د دې غمه ژړېږم
بې کاره بې تعلیمه راته پاتې خپل اولاد شو
پښتون غریب برباد شو
سید په خپل سیادت ــ د خان غواړي غزت
قسم دی ما ونه لید د وطن د خیر طالب
نفسونه شول غالب
خوګ میا او خوګ ملا شول ــ د کسب نه تېراشول
وایي کسب و کمال څه کړم شکرانو باندې مړېږم
د دې غمه ژړېږم
دا خان نه دی خاین دی ــ پخپل خان چې مین دی
هېڅ غم د وطن نه خوري چې یو ځل یې نس اباد شو
پښتون غریب برباد شو
که حق وایم وېرېږم ــ که نه وایم پړسېږم
د ځینو کارکنانو کاروي ور د تعجب دي
نفسونه شول غالب
په ځای د د عدالت ــ ما ولي تجارت
له غمه شم ترور یو نیم مامور نه چې خبرېږم
د دې غمه ژړېږم

تر ټولو غټه او د خوښۍ خبره دا ده چې دغه غریب چمیاری بېسوادوال ننګرهاري په آزادۍ مین ، دومره مین چې بې له هغې یې ژوند نه خوښېده ، لکه چې وایي:

چې آزادي نه وي ژوندون دې نه وي
هغه ژوندون نه مرگ بهتر گڼمه
چې اقتدار نه وي پښتون دې نه وي
بې اقتدار له مړو بتر گڼمه

ملنگ جان په غریبۍ او خوارۍ کې هم په آزادۍ پسې روان و.

کچکول په غاړه قلندر یمه زه
آزاد ژوندون بلند نشان لټوم

خپلواکي او پښتونواله د ملنگ جان ایډیال وو . لکه چې وايي:

روح مې په تن کې اسوده دی استقلاله سره
زما ځواني ډول کوي له پښتونواله سره
د فقیر ملنگ جان دغومره بخت بس دی
چې آزاد دی په آزاد وطن کې گور دی

په پای کې زه هغو قدرمنو پښتنو ته چې د دغه همتناک پښتون ولسي شاعر له چاپ شویو اشعارو څخه ځینې یې غوره کوي او خپروي بنه چارې وایم او په خپلو دغو کرښو سره د ملنگ جان یاد تازه ساتم.